السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# هغه یوه ورځ هم داسې ندي ویلي چې اې زما ربه! ماته د قیامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه

له عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چې وايي: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، ابْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ، وَيُطْعِمُ الْمِسْكِينَ، فَهَلْ ذَاكَ نَافِعُهُ؟ قَالَ: «لَا يَنْفَعُهُ، إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا: رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ». «ما وویل: اې د الله رسوله، ابن جدعان به په جاهلیت کې خپلوي ( صله رحمي ) پاللـه او مسکینانو ته به یې ډوډ ورکوله، نو آیا دا - کارونه - ورته ګټه رسوي؟ هغه وفرمایل: « ګټه ورته نه رسوي، هغه یوه ورځ هم داسې ندي ویلي چې اې زما ربه! ماته د قیامت په ورځ زما ګناهونه وبخښه».

[صحيح] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د عبدالله بن جدعان په اړه چې له اسلام څخه مخکې د قریشو له مشرانو څخه و، وفرمایل: د هغه له نیکو اعمالو څخه دا دي چې خپلوانو سره خپلولي پالي، له هغوی سره نیکي کوي، مسکینانو ته خواړه ورکوي او داسې نور نیک کارونه کوي چې اسلام یې په تر سره کولو ټینګار کړی دی، نو په الله تعالی باندې د هغه د کفر له امله ورته دا کارونه په آخرت کې هیڅ ګټه نه رسوي، ځکه هغه یوه ورځ هم ندي ویلي چې: ربه، د قیامت په ورځ زما ګناه راوبخښه.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65009

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee